## د افغانستان اسلامي امارت

### د ارشاد، حج او اوقافو وزارت

### د مساجدو او حُسَينيو د ارشاد او انسجام لوی رياست

**د جمعې ورځې د خطابت موضوع او**

**ليکلی تقرير او بيان چې د هيواد دمرکز او ولاياتو**

**ټولو خطيبانو ته په دواړو ملي ژبو (پښتو او دري) کې ليږل کيږي.**

---

**۳/ ربيع الثاني/۱۴۴۷ هـ، ق موافق ۴/ ميزان /۱۴۰۴هـ، ش**

# په قرآني قِصَصُو او واقعاتو کې ددې اُمت لپاره تربيت او عبرتونه نغښتي دي.

**بسم الله الرحمن الرحيم**

الحمد لله حمداً كثيراً طيباً مباركاً فيه، كما يحب ربنا ويرضى، وأشـهد أن لا إله إلا الله وحده لا شريك له، وأشـهد أن محمداً عبده ورسوله، صلى الله وسلم وبارك عليه وعلى آله وأصحابه والتابعين ومن سار على نهجه أجمعين، أمابعد:فقد قال الله سبحانه وتعالى في مُحكم كتابه وهو أصدق القائلين:(لَقَدْ كَانَ فِي قَصَصِهِمْ عِبْرَةٌ لِأُولِي الْأَلْبَابِ مَا كَانَ حَدِيثًا يُفْتَرَى وَلَكِن تَصْدِيقَ الَّذِي بَيْنَ يَدَيْهِ وَتَفْصِيلَ كُلِّ شَيْءٍ وَهُدًى وَرَحْمَةً لِّقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ)يوسف: (۱۱۱)وقال تعالى: (فَاقْصُصِ الْقَصَصَ لَعَلَّهُمْ يَتَفَكَّرُونَ)الاعراف:(۱۷۶)

**درنو حاضرينو او محترمو سامعينو!**

**السلام عليكم ورحمة الله وبركاته.**

د قِصې او واقعې په بيانولو سره د پيغام رسول او د بل چا پوهول تر ټولو مؤثره طريقه ده او زړونه يې خوښوي، په ځانګړې توګه هغه خوک چې په سترګو باندې يې پردې وي او په زړه باندې يې د جهالت مهر لګيدلی وي.له همدې امله الله تعالی ورته احسن القصص ويلي دي.(نَحْنُ نَقُصُّ عَلَيْكَ أَحْسَنَ الْقَصَصِ بِمَا أَوْحَيْنَا إِلَيْكَ هَذَا الْقُرْآنَ وَإِنْ كُنْتَ مِنْ قَبْلِهِ لَمِنَ الْغَافِلِينَ).يوسف: (۳)

ترجمه:- مونږ بيانوو (لولوو) پر تا باندې ډېره ښه قصه له ټولو قصو( ځکه چې خاوند يې ښه دی) په سبب د وحي ځمونږ تاته دغه قرآن او بېشکه شان دادی چې وې ته پخوا له نزوله ددې قرآن خامخا له نا خبرانو (په دې قصې)

الله جل جلاله د خپلې بې ساري مهربانۍ له مخې مونږ ته ځينې احکام، مسائل، آداب ، وعد او وعيد په قرآني قِصَصُو او واقعاتو کې بيان کړي دي، ترڅو ژور فکر په کې وکړو او ځانونه د قرآني قِصې او واقعې په مطلب او هدف باندې پوهه کړو.

الله جل جلاله قرآن کريم د ټولو انسانانو د هدايت لپاره رالیږلی دی او قرآن کريم په مختلفو اسلوبو انسانان د الله تعالی وحدانيت او يووالي ته رابللي دي .الله جل جلاله په قرآني کريم انسانان په قسماقسم صيغو ، جملو او کلماتو سره انسانان مخاطب کړي دي ؛ ترڅو له ګمراهۍ، کفر، الحاد او بدو عقايدو او ناوړه اعمالو څخه راوګرځي او يواځې د يو رب عبادت او بندګي وکړي، غوره اخلاق په ځان کې پيدا کړي او د تيرو سرکشـو او نافرمانه انسـانانو لار خپله نکړي، چې د هغو اسـلوبو څخه د قرآن کريم د تيرو امتونو او د پيغمبرانو د قِصَصُو او واقعاتو بيان هم دی. په قرآن کريم کې د تيرو امتونو او پيغمبرانو قِصَص او واقعات ددې لپاره ذکر شوي دي چې مونږ په کې فکر وکړو او ورڅخه پند او عبرت واخلو او قرآني تربيت زده کړو. لکه چې الله تعالی فرمايلي دي: (وَكُلًّا نَقُصُّ عَلَيْكَ مِنْ أَنْبَاءِ الرُّسُلِ ما نُثَبِّتُ بِهِ فُؤادَكَ وَجاءَكَ فِي هذِهِ الْحَقُّ وَمَوْعِظَةٌ وَذِكْرى لِلْمُؤْمِنِينَ) هود: (۱۲۰)

ترجمه:- او دا ټول اخبار لولو مونږ پر تا (ای رسول الله) له احوالو د تېرو رسولانو هغه چې کلکوو قوي مطمئن کوو مونږ په هغو سره زړه ستا (په تزيید د يقين سره) او راغلي دي تاته په دغو اخبارونو کې حق (رښتيا) او موعظه (پند) او يادونه لپاره د مؤمنانو.
په قرآن کريم کې د تيرو امتونو او د هغو د رسـولانو د قِصَـصُـو او واقعاتو ذکر د قرآن کريم پر اعجاز دلالت کوي او په نورو آسـماني کتابونو د قرآن کريم د غوره والي دليل دی. د تيرو امتونو د حالاتو بيانول د قرآن کريم پر حقانيت دلالت کوي ؛ ځکه چې د تيرو امتونو، قومونو او پيغمبرانو په واقعاتو علم در لودل هغه هم د واقعيت سره سم، يواځې د عالِم الغيب ذات خصوصيت دی چې په قرآن کريم کې يې بيان کړي دي چې دا اعجاز په نورو آسـماني کتابونو کې نشـته. لکه چې الله تعالی فرمايلي دي:(ذَٰلِكَ مِنْ أَنْبَاءِ الْغَيْبِ نُوحِيهِ إِلَيْكَ وَمَا كُنْتَ لَدَيْهِمْ إِذْ يُلْقُونَ أَقْلامَهُمْ أَيُّهُمْ يَكْفُلُ مَرْيَمَ وَمَا كُنْتَ لَدَيْهِمْ إِذْ يَخْتَصِمُونَ) آل عمران: (٤٤)
ترجمه:- دا (د مريې ، زکريا، او د يحی ذکر شـوې قصـې) له اخبارونو د غيبو څخه دي، چې مونږ يې په وحيې سره درليږو تاته (ای محمده!) او نه وې ته ای محمده حاضر په نزد د دوی (يعنی احبارو د بيت المقدس) کله چې دوی غورځول قلمونه خپل (په اوبو کې چې په دې قرعې سره معلوم کړي) چې کوم له دوی ځنې تربيه وکړې د مريمې او نه وې ته په نزد د دوی کله چې دوی جگړې سره کولې (په کفالت د مريمې کې).
همدا اراز په حديث شريف کې راځي: (كِتَابُ اللهِ فِيهِ نَبَأُ مَا قَبْلَكُمْ وَخَبَرُ مَا بَعْدَكُمْ ). سنن الدارمي (٢ /٥٢)، مسند البزار (١ /١٥٦)
ژباړه:- د الله تعالی کتاب کې د تيرو امتونو واقعات دي او د راتلونکو حالاتو بيان هم په کې دی.
د سپيڅلي هدف بيانول د قِصې او واقعې په بڼه په خپله د قرآن کريم د بې مثاله بلاغت نښه ده.
الله تعالی په قرآن کريم قِصص او واقعات په داسې تعبيراتو سره بيان کړي دي چې د قرآن کريم د قِصَـصُـو او واقعاتو هره کلمه او هره جمله په سلهاوو او زرهاوو عبرتونو او پندونو مشتمله ده.
الله تعالی په قرآن کريم کې د تيرو امتونو قِصَص او واقعات د عبرت ، پند او درس اخيستلو لپاره بيان کړي دي؛ ترڅو مونږ او تا سې پند او عبرت او پند واخلو او تربيت ورڅخه زده کړو او خپل اخلاق کامل کړو، لکه چې الله تعالی فرمايلي دي:( لَقَدْ كَانَ فِي قَصَصِهِمْ عِبْرَةٌ لِأُولِي الألْبَابِ مَا كَانَ حَدِيثًا يُفْتَرَى وَلَاكِن تَصْدِيقَ الَّذِى بَيْنَ يَدَيْهِ وَتَفْصِيلَ كُلِّ شَىْءٍ وَهُدًى وَرَحْمَةً لِّقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ)يوسف:(١١١)
ترجمه:- خامخا په تحقيق په قصه د دوی (يو سف يا د نورو انبياوو يا اممو) کې عبرت (پند) دی لپاره د خاوندانو د عقلونو (خالصو) نه دی (دغه قرآن) يوه داسې خبره چې له ځانه په دروغو ويلی شـوی وي ليکن دی دغه قرآن تصـديق کوونکی او موافق د هغو کتابونو چې وو پخوا له دې نه او دی تفصـيل د هر شي(چې محتاج اليه وي په دين کې) او هدايت دی او رحمت دی لپاره د هغه قوم چې ايمان يې راوړی په الله او په رسول الله.
د قرآن کريم په هره قصه او واقعه کې بې شميره عبرتونه، وعظونه او پندونه نغښتې دي، چې ځينې يې په لاندې ډول دي:
**١- په قرآني کريم کې د قِصَصُو او واقعاتو په ذکر کولو کې د رسول الله صلى الله عليه وسلم او نورو د حق د لارې ددعتگرو د زړونو ثبات او هغوی ته تسلې ورکول مقصـود دي ، ترڅو فکر وکړو او په زړه کې وواېو هغه څه چې د حق بيانولو په وجه له ماسره کيږي ، دا هغه څه دي چې زما څخه مخکې د ر سولانو او پيغمبرانو سره هم شوی ؤ او هغوی ددې ټولو مشکلاتو باوجود خپل کار پرينښود او د خپلو قومونو د جفا باوجود هغوی خپل دعوت دوام ورکړی ؤ او په خپل موقف باندې ثابت پاتې شـوي وو. لکه چې الله تعالی فرمايلي دي:( وَلَقَدْ كُذِّبَتْ رُسُلٌ مِنْ قَبْلِكَ فَصَبَرُوا عَلى ما كُذِّبُوا وَأُوذُوا حَتَّى أَتاهُمْ نَصْرُنا وَلا مُبَدِّلَ لِكَلِماتِ اللَّهِ وَلَقَدْ جاءَكَ مِنْ نَبَإِ الْمُرْسَلِينَ) . الأنعام:(٣٤)**
ترجمه:- او خامخا په تحقيق دروغجن بللي شوي دي ډېر رسولان پخوا له تانه نو صبر به يې کاوه پر دروغجن گڼلو او ضرر رسېدلو د کفارو له جانبه تر هغه پورې چې راغله دوی ته مرسته (مدد) ځمونږ او نشته هيڅ بدلوونکی د احکامو اړوونکی د کلماتو د الله او خامخا په تحقيق راغلی ده تاته (څه خبره) له حالاتو د (تېرو) رسولانو (چې پرې متسلي شې).
په يو بل مبارک آيت کې راځي الله تعالي فرمايلي دي چې مونږ تاته د رسولانو حالات ځکه بيانوو چې ستا زړه ورباندې مضبوط او ثابت کړو:(وَكُلًّا نَقُصُّ عَلَيْكَ مِنْ أَنْبَاءِ الرُّسُلِ مَا نُثَبِّتُ بِهِ فُؤَادَكَ وَجَاءَكَ فِي هَذِهِ الْحَقُّ وَمَوْعِظَةٌ وَذِكْرَى لِلْمُؤْمِنِينَ) هود:(١٢٠)

**۲- د تیرو امتونو او پیغمبرانو په قِصَصُو او واقعاتو کې د الله تعالی د دین د ښمنانو ته په کې سرزنش، سخته ویرونه، انذار او تخویف دی، چې که چیرې تاسو په الله تعالی ایمان رانه وړئ او د خپلو ناوړه کړو څخه لاس په سر نشئ ، نو هغه عذابونه به دربانديې نازل کړم لکه چې ستا سې څخه په مخکنیو ددین د ښمنانو باندې مې راو ستلی ؤ. الله تعالی فرمایلي دي:**(وَعاداً وَثَمُودَ وَقَدْ تَبَيَّنَ لَكُمْ مِنْ مَساكِنِهِمْ وَزَيَّنَ لَهُمُ الشَّيْطانُ أَعْمالَهُمْ فَصَدَّهُمْ عَنِ السَّبِيلِ وَكانُوا مُسْتَبْصِرِينَ (۳۸) وَقارُونَ وَفِرْعَوْنَ وَهامانَ وَلَقَدْ جاءَهُمْ مُوسى بِالْبَيِّناتِ فَاسْتَكْبَرُوا فِي الْأَرْضِ وَما كانُوا سابِقِينَ (۳۹) فَكُلًّا أَخَذْنا بِذَنْبِهِ فَمِنْهُمْ مَنْ أَرْسَلْنا عَلَيْهِ حاصِباً وَمِنْهُمْ مَنْ أَخَذَتْهُ الصَّيْحَةُ وَمِنْهُمْ مَنْ خَسَفْنا بِهِ الْأَرْضَ وَمِنْهُمْ مَنْ أَغْرَقْنا وَما كانَ اللَّهُ لِيَظْلِمَهُمْ وَلكِنْ كانُوا أَنْفُسَهُمْ يَظْلِمُونَ)العنکبوت:(العنکبوت:(۴۰)

ترجمه:- (هلاک کړی مو وو )قوم د عاد او ثمود او په تحقیق ښکاره شوي دي تاسې ته (اهلاک) له کورنو د دوی (چې ورانې کنډوالې یې پرتې دي) او ښایسته کړي وو دوی ته شیطان عملونه د دوی پس اړولي وو (دغه شیطان) دوی له لارې د حق (چې د خپلو انبیاوو متابعت یې ونه کړ) او وو دوی بینا یان (هوښیاران).او (هلاک کړي مو وو) قارون او فرعون او (وزیر یې) هامان، او خامخا په تحقیق راغلی وو دوی ته موسی په معجزاتو ښکاره وو سره پس تکبر وکړ دوی په ځمکه د مصر- کې او نه وو دوی ړومبی کیدونکي (له حکم او عذابه ځمونږ). پس هر یو له دغو مذکورینو ونیول مونږ په سبب د ګناه خپلې یې پس ځینې د دوی هغه څوک دي چې ولیږل مونږ پرې سخت کاڼي وروونکی باد او ځینې له دوی هغه څوک دي چې ونیول دوی چغې (چې زړونه یې و چاودل) او ځینې له دوی هغه څوک دي چې غرق کړل مونږ دوی په اوبو کې) او نه وو الله چې ظلم یې کړی وی پهر هغو ولیکن وو دوی پر ځانونو خپلو به یې ظلم کاوه (په کفر او معصیت سره).

**۳- په قرآني قِصَصُو او واقعاتو کې الله تعالی د تیرو امتونو هلاکت او تباهي ددې لپاره بیان کړي ده، ترڅو مونږ ور څخه عبرت واخلو او د هغو اعمالو او کړنو څخه ځانونه و ساتو چې هغوی کول او په مختلفو عذابونو لکه طوفان، تیزه هواء، آیماني چغه او دا سې نور. الله تعالی فرمایلي دي:**( لَقَدْ كَانَ فِي قَصَصِهِمْ عِبْرَةٌ لأُوْلِي الالْبَابِ)یوسف:(۱۱۱)

ترجمه:- خامخا په تحقیق په قصه د دوی (یوسف یا د نورو انبیاوو یا اممو) کې عبرت (پند) دی لپاره د خاوندانو د عقلونو

**۴- په قرآني قِصَصُو او واقعاتو کې د محمدي (صلی الله علیه وسلم) اُمت لپاره اطمینان او زیری دی ، هغه داسې، چې کله ددین دښمنانو د رسولانو او پیغمبرانو خبره نه ده منلې، نو الله تعالی هغوی هلاک او تباه کړي دي او فتح ، نصرت او کامیابي یې دمسلمانانو په برخه کړی ده، دا زمونږ لپاره زیری دی چې کامیابي د مؤمنانو او مسلمانانو ده ولو که د څه وخت لپاره ددښمن څخه په تکلیف کې وي، لکه چې الله تعالی فرمایلي دي:** ( فَلَمَّا جاءَ أَمْرُنا نَجَّيْنا صالِحاً وَالَّذِينَ آمَنُوا مَعَهُ بِرَحْمَةٍ مِنَّا وَمِنْ خِزْيِ يَوْمِئِذٍ إِنَّ رَبَّكَ هُوَ الْقَوِيُّ الْعَزِيزُ * وَأَخَذَ الَّذِينَ ظَلَمُوا الصَّيْحَةُ فَأَصْبَحُوا فِي دِيارِهِمْ جاثِمِينَ (٦٧) كَأَنْ لَمْ يَغْنَوْا فِيها أَلا إِنَّ ثَمُودَ كَفَرُوا رَبَّهُمْ أَلا بُعْداً لِثَمُودَ)هود: (٦٨)

ترجمه:- بیا کله چې راغی امر (حکم عذاب) ځمونږ نو نجات ورکړ مونږ صالح ته او هغو کسانو ته چې ایمان یې راوړی وو له ده سره په رحمت او فضل سره له نزده خپله نه په عمل د دوی او له رسوایی د دغې ورځې یا د قیامت بېشکه رب ستا همدی دی قوي ښه غالب په انفاذ د احکامو(او اهلاک د کافرانو). او ونیول هغو کسانو لره چې ظلم یی کړی وو پر ځانونو خپلو (په کفر سره) چغې (هیبتناکې د جبرئیل)بیا ګهیځ (سحر) وګرځیدل دوی په کورونو خپلو کې مړه وچ کلک پر ځنګنونو پړمخي پراته لکه چې نه وو اوسېدلي دوی په دې کورونو کې (له سره) و اورئ! خبردار شئ چې بېشکه ثمودیان کافران شوي وو په رب خپل واورئ خبردار شئ لرې والی دی له رحمته ثمودیانو ته.

په یو بل مبارک آیت کې راځي: (إِنَّا لَنَنْصُرُ رُسُلَنَا وَالَّذِينَ آمَنُوا فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَيَوْمَ يَقُومُ الْأَشْهَادُ ).غافر:(۵۱)

ترجمه:- بېشکه چې مونږ خامخا مدد کوو له رسولانو خپلو سره او مدد کوو له هغو کسانو سره چې ایمان یې راوړی دی په ژوندانه لږ خسیس کې( په حجت او په ظفر او په انتقام له اعدادو د دوی) او موږ خامخا مدد کوو په ورځ د قیامت کې.

**٥- په قرآني قِصَصُو او واقعاتو کې دا درس او عبرت پروت دی، چې د ټولو پیغمبرانو او رسولانو یو دین دی او د ټولو پیغمبرانو په دعوت کې یو منهج ؤ، چې هغه د الله تعالی وحدانیت ته رابلل ؤ. همداراز د ټولو پیغمبرانو دقومونو یو قسم رویه وه چې هغه د نبیانو رټل، هغوی ته قسماقسم بد القاب استعمالول، د پیغمبرانو په مقابل کې دریدل، پیغمبران تعذیبول او د هغوی د وژلو لپاره دسیسې جوړول ؤ.**

**الله تعالی د پیغمبرانو د داعیې او منهج په اړه فرمایلي دی:** (وَمَا أَرْسَلْنَا مِن قَبْلِكَ مِن رَّسُولٍ إِلا نُوحِي إِلَيْهِ أَنَّهُ لا إِلَهَ إِلا أَنَا فَاعْبُدُونِ)الأنبياء: (٢٥)

ترجمه:- او نه وو لېږلی مونږ پخوا له تا څخه هیڅ رسول مگر چې وحي به کوله مونږ هغه ته دا سې چې بېشکه شان دا دی چې نشته بر حق معبود مگر زه یم یواځې نو بندګي کوئ زما.

په یو بل مبارک آیت کې راځي:(وَإِلَى عَادٍ أَخَاهُمْ هُوداً قَالَ يَا قَوْمِ اعْبُدُواْ اللّهَ مَا لَكُم مِّنْ إِلَهٍ غَيْرُهُ أَفَلاَ تَتَّقُونَ* قَالَ الْمَلأُ الَّذِينَ كَفَرُواْ مِن قَوْمِهِ إِنَّا لَنَرَاكَ فِي سَفَاهَةٍ وِإِنَّا لَنَظُنُّكَ مِنَ الْكَاذِبِينَ* قَالَ يَا قَوْمِ لَيْسَ بِي سَفَاهَةٌ وَلَكِنِّي رَسُولٌ مِّن رَّبِّ الْعَالَمِينَ* أُبَلِّغُكُمْ رِسَالاتِ رَبِّي وَأَنَاْ لَكُمْ نَاصِحٌ أَمِينٌ) الأعراف: (٦٨)

ترجمه:- او لېږلی وو مونږ قوم د عاد ته قومي ورور د دوی (هود) وویل (هود) ای قومه زما ! عبادت کوئ تاسې د الله نشته تاسې ته هیڅ (حق) معبود بې له الله نو آیا تاسې نه ویرېږئ (له عذابه د الله او پر هیز نه کوئ له شرکه) نو وویل مشرانو هغو چې کافران شوي وو له قومه د دغه هود بېشکه مونږ خامخا وینو تا (خبن) په بې عقلی کې او بېشکه مونږ خامخا گمان کوو په تا له دروغجنانو وویل هود ای قومه زما نشته په ما کې له سره هیڅ بې عقلي ولیکن زه یم رسول استازی له جانبه د رب پالونکی د ټولو عالمیانو در رسوم تاسې ته پیغامونه د رب خپل او زه تاسې ته ذکر نصیحت کوونکی بښه امانت گر یم .

د قرآني قصصو او واقعاتو کې دا درس پروت دی ، چې د نوح علیه السلام د زمانې څخه واخله تر نن ورځې پورې ټول کفار یوه تګلاره، یوه رویه لري او یو خوی لري، چې هغه د حق مقابله کول دي او د مسلمان په وژل او زورول دي او کفار په دې تګلاره کې هیڅ صرفه نه کوي او د مسلمان په مقابل کې ټول جهان کفار یو موټی دي او د مسلمانانو په مقابل کې د ټولې نړۍ کفار یو صف او یو ملت دی،که هغه دهری دی، که هغه عیسوي دی که هغه مجوسي دی او که هغه یهودي دی. څکه خو امام محمد رحمه الله په موطأ کې ذکر کړي دي چې (والكفر ملة واحدة) (٣ /١٠٧) کفر ټول یو ملت دی.

**٦- په قرآني قِصَصُو او واقعاتو کې ځوانانو او پیغلو لپاره د عفت او حیاء تربیت پروت دی. لکه د یوسف علیه السلام په واقعه کې چې د مصر د عزیز د ښځې له خوا بدکارۍ ته دعوت شو، مگر حضرت یوسف علیه السلام جیل ته په بدکارۍ ترجیح ورکړه.**

**او لکه د شعیب علیه السلام د لوڼو په باره کې راځي چې:**(فَجَاءَتْهُ إِحْدَاهُمَا تَمْشِي عَلَى اسْتِحْيَاءٍ قَالَتْ إِنَّ أَبِي يَدْعُوكَ لِيَجْزِيَكَ أَجْرَ مَا سَقَيْتَ لَنَا).القصص: (٢٥)

ترجمه:- پس راغله دغه موسی ته یوه له دواړو چې تګ یې کاوه په طریقه د حیاء سره نو وویل دې موسی ته چې بېشکه پلار زما بولي تا لپاره د دې چې در کړي تا ته اجر حق د اوبو کولو ستا (ګډو) زمونږ ته.

**٧- په قرآني قِصَصُو او واقعاتو کې زمونږ لپاره دا درس پروت دی، چې د بهترۍ او برترۍ معیار تقوی ده او علم دی. په چاکې چې علم وي هغه د فضیلت خاوند دی او څوک چې جاهل دی هغه ددغه فضیلت څخه محروم دی. د حضرت آدم علیه السلام برتري او بهتري په ملائکو باندې د علم په وجه ؤ. ملائکې چې د گناه څخه پاکې دي او د الله تعالی دهر امر منونکي او پرځای کوونکي دي دانسان په پیدا کولو ددې وجې نه اندېښنه ښکاره چې بیا به انسان گناهونه او فسادونه کوي . الله تعالی آدم علیه السلام د هغه څه علم ورکړ چې ملائکو نه درلودلو ؛ نو د علم په واسطه همغه شخص چې ملائکو یې د وجود په اړه اندیښنه لرله ددوی مسجود الیه وګرځولو .**

الله جل جلاله فرمایلي دي:(وَعَلَّمَ آدَمَ الأَسْمَاءَ كُلَّهَا ثُمَّ عَرَضَهُمْ عَلَى الْمَلائِكَةِ فَقَالَ أَنْبِئُونِي بِأَسْمَاءِ هَؤُلاءِ إِنْ كُنْتُمْ صَادِقِينَ(٣١) قَالُوا سُبْحَانَكَ لا عِلْمَ لَنَا إِلا مَا عَلَّمْتَنَا إِنَّكَ أَنْتَ الْعَلِيمُ الْحَكِيمُ(٣٢) قَالَ يَا آدَمُ أَنْبِئْهُمْ بِأَسْمَائِهِمْ فَلَمَّا أَنْبَأَهُمْ بِأَسْمَائِهِمْ قَالَ أَلَمْ أَقُلْ لَكُمْ إِنِّي

أَعْلَمُ غَيْبَ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضِ وَأَعْلَمُ مَا تُبْدُونَ وَمَا كُنْتُمْ تَكْتُمُونَ(٣٣) وَإِذْ قُلْنَا لِلْمَلائِكَةِ اسْجُدُوا لآدَمَ فَسَجَدُوا إِلا إِبْلِيسَ أَبَى وَاسْتَكْبَرَ وَكَانَ مِنَ الْكَافِرِينَ) البقرة: (٣٤)

ترجمه:- او وښودل الله آدم ته نومونه ټول(د پاسنيو او ځمکنيو شيانو)بيا يې ور وړاندې کړل هغه ټول شيان پرښتو ته نو ويې ويل خبر راکړئ تاسې ما ته په نومونو ددې شيانو سره که يئ تاسې رښتيا ويونکې(پخپلې دغې وينا کې) وويل پرښتو نسبت(د پاکۍ کوو تاته له ټولو عيبونو او اعتراضونو )نشته هيڅ علم موږ لره مگر په هغه شي چې ښودلی دی تا مونږ ته بېشکه ته هم دا ته ښه عالم او ښه د حکمت خاوند يې. په قرآني قِصَصُو او واقعاتو کې دا تربيتي درس پروت دی، چې انسان که هر څومره علم ولري بايد عاجزي اختيار کړي او هيڅکله ددې دعوی ونکړي چې زه په هرڅه پوهيږم، بلکې تل د علم په طلب کې اوسي لکه حضرت موسی عليه السلام چې الله تعالی تعالی عرض وکړ چې ( أي رب هل في أرضك أحد أعلم مني ؟ قال: نعم ).تفسير ابن كثير / دار الفكر (٣/ ١١٩)

ژباړه: ای زما ربه! آيا ستا په ځمکې کې څوک زما څخه زيات عالم شته ؟ الله تعالی ورته وفرمال: هو! (ستا څخه زما زيات عالم بنده هم شته).

د قرطبي په روايت کې راځي، چې د موسی عليه السلام څخه يو کس پوښتنه وکړه چې آيا ستا څخه زيات عالم بل څوک شته؟ موسی عليه السلام ورته وويل: نه! زما څخه بل زيات عالم نشته ، الله تعالی دده په دې خبره په قهر شو او جبرائيل عليه السلام يې ورته راوليږلو چې موسی عليه السلام ته ووايه چې ستا څخه زما زيات عالم بنده شته او په مجمع البحرين کې دی او ور شه له هغه څخه علم زده کړه. تفسير القرطبي (١١ /١٠)

**٨- همداراز په قرآني قِصَصُو او واقعاتو کې ځوانانو لپاره دا تربيتي درس پروت دی، چې لکه د ا صحاب کهف ځوانانو په خير دهر طاغوت په مقابل کې قيام وکړي او په خپل ايمان کلک ودريږي او هيڅکله چاته تسليم نشي، الله تعالی بيا ددا سې خلکو سره خصوصي مرسته او نصرت کوي. يا لکه د أصحابُ الأُخدود په واقعه کې چې هغه ځوان مرگ ته ځان ورکړ، مگر له حق څخه تير نشو.**

(نَحْنُ نَقُصُّ عَلَيْكَ نَبَأَهُم بِالْحَقِّ إِنَّهُمْ فِتْيَةٌ آمَنُوا بِرَبِّهِمْ وَزِدْنَاهُمْ هُدًى * وَرَبَطْنَا عَلَى قُلُوبِهِمْ إِذْ قَامُوا فَقَالُوا رَبُّنَا رَبُّ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ لَن نَّدْعُوَ مِن دُونِهِ إِلَهًا لَقَدْ قُلْنَا إِذًا شَطَطًا) الكهف: (١٤)

ترجمه:- مونږ قصه کوو تا ته خبر حال د دوی په حقه (ر ښتيا) سره بېشکه دوی دا سې زلميان دي چې ايمان لري په رب خپل او زيات کړي وو مونږ دوی له جهته د هدايته. او ټينگ تړلی دی مونږ پر زړونو د دوی قوت او صبر کله چې پاڅېدل نو وويل دوی رب زموږ رب د اسمانونو او د ځمکې دی له سره به عبادت ونه کړو بې له همغه الله د بل معبود او که بل څوک مو په الوهيت سره وباله نو خامخا په تحقيق ويلی به وي مونږ هلته خبره خطا لويه دروغه.

**٩- په قرآني قِصَصُو او واقعاتو کې ددې اُمت لپاره دا درس پروت دی، چې په اسلام کې بايد دخپلولۍ او ريشتې پاللو اساس ايمان وي او ايمان بايد د روابطو لپاره شرط وگرځول شي، په چا کې چې ايمان او دينداري وي هغه که د ايران سلمان فارسي رضی الله عنه وي او يا د حبشې حضرت بلال رضی الله عنه وي، هغه به د مسلمان ورور او خپلوان وي او بايد ايماني وروړگلوي ورسره وپالل شي او په چا کې چې دين او دينداري نه وي ، هغه د خپلولۍ او د ورور گلوۍ پاللو مستحق نه دی، ولو که د پيغمبر زوی کنعان هم وي. د نوح عليه السلام په قصه کې همدا مطلب پروت دی. کنعان چې د نوح عليه السلام زوی ؤ، خو چې ی نوح عليه السلام پيروي يې نه کوله ، الله تعالی نوح عليه السلام ته وفرمايل:**(قَالَ يَانُوحُ إِنَّهُ لَيْسَ مِنْ أَهْلِكَ إِنَّهُ عَمَلٌ غَيْرُ صَالِحٍ فَلَا تَسْأَلْنِ مَا لَيْسَ لَكَ بِهِ عِلْمٌ إِنِّي أَعِظُكَ أَنْ تَكُونَ مِنَ الْجَاهِلِينَ).هود: (٤٦)

ترجمه:- وفرمايل الله ای نوحه بېشکه چې هغه زوی نه دی له اهله ستا (چې مؤمنين دي) بېشکه دی خاوند د عمل ناکاره نو سوال مه کوه د هغه څيز چې نه وي تاته په هغه څيز کې څه علم بېشکه زه پند درکوم تاته چې نه شې ته له جاهلانو په دې ناجائز سوال سره.

**۱۰- په قرآني قِصَصُو او واقعاتو کې زمونږ لپاره داتربيت پروت دی، چې د ميلمه قدر په کار دی او که څوک توان لري، نو د ابراهيم عليه السلام خصلت او عادت دې په ځان کې پيدا کړي او هغه دا سې چې کله ورته ملائکې د انسانانو په شکل کې راغلې ، نو هغه په تيزۍ سره خوسۍ ورته سور کړ او په تيزۍ سره يې د هغوی خوا ته راوړلو ، نو مونږ ته په کار دي چې د ميلمه ته ميلمستيا ورکړو او په پروخت يې ورکړو او پرې نږدو چې په تش نس د ډوډۍ انتظار وکړي، بلکې هر څه چې توان کې لرو ژر يې ورته راوړو .**

**بله داچې اسلامي او ابراهيمي آداب دادي چې د ميلمه څخه پوښتنه کول په کار نه دي چې آيا ډوډۍ دې خوړلې ده او که نه؟ ځکه ابراهيم عليه السلام بې پوښتنې ورته خوسۍ سور کړ او ورته يې راوړ. قرآن کريم دا واقعه داسې بيانوي:** (وَلَقَدْ جَاءَتْ رُسُلُنَا إِبْرَاهِيمَ بِالْبُشْرَى قَالُوا سَلَامًا قَالَ سَلَامٌ فَمَا لَبِثَ أَنْ جَاءَ بِعِجْلٍ حَنِيذٍ)هود: (٦٩)

ترجمه:- او هرومرو خامخا په تحقيق راغلي وو رسولان زمونږ (ملائک) ابراهيم ته په زيري ( د زوی او اهلاک د قوم د لوط )نو وويل ملائکو سلام آچوو پر تا سې په سلام آچولو سره وويل ابراهيم سلام دې وي پر تا سې نو ځنډ يې ونه کړ چې رايې وړ دوی ته خسي وريت کړی شوی.

**۱۱- په قرآني قِصَصُو او واقعاتو کې ددې اُمت لپاره دا درس پروت دی ، چې په سختيو صبر کول او په عزيمت عمل کول د انبياوو لار ده. د حضرت ابراهيم عليه السلام په قصه کې د صبر مقام پروت دی او الله تل د صابرينو سره مل دی.هرکله چې حضرت ابرهيم عليه السلام د نمرود په اور باندې صبر وکړ، الله تعالی ورته هغه اور دده ساتونکی وگرځولو. لکه چې الله تعالی فرمايلي دي:**(قُلْنَا يَا نَارُ كُونِي بَرْدًا وَسَلَامًا عَلَى إِبْرَاهِيمَ)الأنبياء: (٦٩)ترجمه:وويل مونږ ای اوره! شه يخ او خاوند د سلامتيا پر ابراهيم باندې.

همدا راز حضرت ايوب عليه السلام د ټولو بچو په مرگ او د مال په هلاکت او دځان په سخت مرض باندې صبر وکړ ، الله تعالی ورته د صبر په وجه د هلاك شوي مالونو دوه چنده مالونه ورکړل. (وَوَهَبْنَا لَهُ أَهْلَهُ وَمِثْلَهُمْ مَعَهُمْ رَحْمَةً مِنَّا وَذِكْرَى لِأُولِي الْأَلْبَابِ).ص:(٤٣)

ترجمه:- او ومو بښل دغه ايوب ته اهل دده او په مثل ددوی له هغوی سره له جهته د مهربانۍ له خپله طرفه او لپاره د ذکر پند اخيستلو خاوندانو د صافو عقلونو ته.

**۱۲- په قرآني قِصَصُو او واقعاتو کې دا درس پروت دی چې دنيا فاني ده او ددنيا په ښايست باندې دوکه کيدل نه دي په کار ځکه دا هرڅه زائليدونکي او له منځه تلونکي دي او په مال، دولت او د افرادو په کثرت سره مغروره کيدل او تکبر کول د تيرو سرکشو خلکو خوی او عادت دی چې الله تعالی بد او ناروا گڼلی دی او بايد په مال، دولت او د سړيو په کثرت مغروره نشو ترڅو په هغه عذاب مبتلا نشو چې تير امتونه او خلک ورباندې اخته شوي ؤ، لکه هغه کس چې په باغونه او زيات سړي يې درلودل او په غرور او تکبر سره يې ويل:** ( وَكَانَ لَهُ ثَمَرٌ فَقَالَ لِصَاحِبِهِ وَهُوَ يُحَاوِرُهُ أَنَا أَكْثَرُ مِنكَ مَالًا وَأَعَزُّ نَفَرًا * وَدَخَلَ جَنَّتَهُ وَهُوَ ظَالِمٌ لِّنَفْسِهِ قَالَ مَا أَظُنُّ أَن تَبِيدَ هَذِهِ أَبَدًا *وَمَا أَظُنُّ السَّاعَةَ قَائِمَةً وَلَئِن رُّدِدتُّ إِلَى رَبِّي لَأَجِدَنَّ خَيْرًا مِّنْهَا مُنقَلَبًا ) الكهف:(٣٦)

ترجمه:- او وو ده ته نورې مېوې پس وويل دغه کافر هغه مؤمن ملگري خپل ته حال دا چې هغه ورسره خبرې کولې په افتخار سره چې زه زيات يم له تانه له جهته د مال او ډېر عزتناک يم له جهته د سړيو. او ننوت دی باغ خپل ته حال دا چې دی ظالم وو پر ځان خپل په سبب د فخر تکبر او کفر ويې ويل چې زه نه کوم گمان چې هلاک خراب به شي دغه باغ زما هيڅکله او نه کوم زه گمان قيامت چې قائم واقع به شي او قسم دی خامخا که بوتلی شم رب خپل ته پس له بيا ژوندون نو قسم دی چې هرومرو به مومم خامخا غوره له دې باغ څخه د غرور او تکبر نتيجه داسې شوه چې باغ يې له منځه لاړ او بيايې لاسونه مروړل:(وَأُحِيطَ بِثَمَرِهِ فَأَصْبَحَ يُقَلِّبُ كَفَّيْهِ عَلَى مَا أَنْفَقَ فِيهَا وَهِيَ خَاوِيَةٌ عَلَى عُرُوشِهَا وَيَقُولُ يَا لَيْتَنِي لَمْ أُشْرِكْ بِرَبِّي أَحَدًا ) الكهف:(٤٢)

ترجمه:- او چاپېر کړی شو په انواعو د مېوو د هغه باغ سړي يعنې هلاک شو پس و گرځيد په وخت د سبا کې چې اړه وه يې څټ او مخ مړل يې لاسونه او ورغوي خپل له خپگانه پر هغه مبلغ چې لگولی وو پر دغه باغ حال دا چې دغه باغ لوېدلی وو پر خپلو مناگانو د تاکو کورو خپلو او وايي ای کاشکې مانه وای نيولی شريک رب خپل سره هيڅوک څو مې دغه باغ نه وی وران شوی.

یا لکه قارون چې د مال په وجه یې دین او ایمان پرېښود او تکبر او سرکشي یې اختیار کړه. قرآن کریم د قارون په هلکه فرمایي:(إِنَّ قَارُونَ كَانَ مِنْ قَوْمِ مُوسَى فَبَغَى عَلَيْهِمْ وَآتَيْنَاهُ مِنَ الْكُنُوزِ مَا إِنَّ مَفَاتِحَهُ لَتَنُوءُ بِالْعُصْبَةِ أُولِي الْقُوَّةِ) القصص:(۷٦)

ترجمه:- بېشکه چې قارون وو له قومه د موسی یعنې د ده تربور وو پس سرکشي- وکړه قارون پر دغو بني اسرائیلو او ورکړی وو مونږ ده ته له خزانو دومره قدر چې بېشکه کلیګانې د هغو به خامخا درنېدلې پر داسې یوې ډلې چې خاوندان د قوت ؤ .

نو د مغروره او د الله تعالی د احسـانونو څخه منکر قارون انجام داسـې شـو چې ځمکې رانبـکلو او مال ورته هیڅ ګټه ونه رسـوله. د قارون انجام قرآن کریم داســې بیان کړی دی: (فَخَسَــفْنَا بِهِ وَبِدَارِهِ الْأَرْضَ فَمَا كَانَ لَهُ مِنْ فِئَةٍ يَنْصُرُــونَهُ مِنْ دُونِ اللَّهِ وَمَا كَانَ مِنَ الْمُنْتَصِرِينَ).القصص: (۸۱)

ترجمه:- پس ننه ایسـت مونږ دغه قارون او کور د ده په ځمکه کې پس نو ده ته په دغه وخت کې هیڅ ډله د دوسـتانو چې مدد ګاري کړي وی له ده سره غیر له الله څخه په دفع د عذاب کې او نه وو قارون پخپله له بدل اخیستونکیو څخه چې ځان یې له عذابه خلاص کړی وی.

**۱۳- په قرآني قِصَصُو او واقعاتو کې زمونږ لپاره دا درس پروت دی، چې د جابرانو، مستکبرینو ، سرکشانو انجام هلاکت دی او مونږ باید د الله تعالی څخه د بغاوت څخه ځانونه وسـاتو ترڅو مونږ هم د هغوی په سرنوشـت اخته نشـو. الله تعالی د هر فرعون لپاره موســی (علیه السـلام) پیدا کړی دی. که چیرې مونږ د فرعون واقعې ته ځیر شـو ، نو هغه ډېر سرکشــه شـو او د خدایې توب دعوه یې وکړه او په بني اسرائیلو به یې ډول ډول ظلمونه کول، د هغه انجام دا سې شو چې الله په اوبو کې غرق کړ او د غرقیدلو په حالت کې توبه ووېستلو خو په دغه وخت کې توبه ویسـتل هیڅ فایده نلري.** (وَاسْــتَكْبَرَ هُوَ وَجُنُودُهُ فِي الْأَرْضِ بِغَيْرِ الْحَقِّ وَظَنُّوا أَنَّهُمْ إِلَيْنَا لا يُرْجَعُونَ(۳۹) فَأَخَذْنَاهُ وَجُنُودَهُ فَنَبَذْنَاهُمْ فِي الْيَمِّ فَانْظُرْ كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الظَّالِمِينَ). القصص:(٤٠)

ترجمه:- او کبر وکړ دغه فرعون او لښکرو د دغه فرعون په ځمکه د مصر- کې په ناحقه سره بې له اسـتحقاقه او ګمان وکړ دوی ددې چې بېشــکه دوی به مونږ ته نه را ګرځول کیږي په قیامت کې پس راونیوه مونږ هم دغه فرعون او هم لښــکرې ددغه فرعون پس و غورځول مونږ دوی ټول په سیند کې پس غرق شول نو وګوره ته ای محمده چې څرنګه وو عاقبت آخره خاتمه د ظالمانو.

یو بل آیت مبارک کې د فرعون انجام داســې بیانوي: (وَجَاوَزْنَا بِبَنِي إِسْرَائِيلَ الْبَحْرَ فَأَتْبَعَهُمْ فِرْعَوْنُ وَجُنُودُهُ بَغْيًا وَعَدْوًا حَتَّى إِذَا أَدْرَكَهُ الْغَرَقُ قَالَ آمَنتُ أَنَّهُ لا إِلَهَ إِلاَّ الَّذِي آمَنَتْ بِهِ بَنُو إِسْرَائِيلَ وَأَنَاْ مِنَ الْمُسْلِمِينَ * آلآنَ وَقَدْ عَصَيْتَ قَبْلُ وَكُنتَ مِنَ الْمُفْسِدِينَ).یونس:(۹۱)

ترجمه:- او تېر کړل مونږ بني اسرائیل له بحره د قلزم روغ رمټ نو پس ور سېده په دوی پسې فرعون او لښکر د ده لپاره د ظلم او جفا تر هغه کله چې ورسـېده دغه فرعون ته غرق (ډوب شـو) او وویرېد په هلاکت خپل نو ویې ویل چې ایمان راوړ ما په دې چې بېشـکه نشته هیڅ معبود برحق مګر یواځې هغه ذات چې ایمان راوړی دی پر هغه بني اسرائیلو او زه یم له مسلمانانو غاړه ایښودونکو حکم د الله ته و فرمایل الله په رد د ایمان د فرعون آیا اوس دې ایمان راوړ حال دا چې په تحقیق نافرماني دې کوله پخوا له دې نه د رســول زما او وې ته له مفسدینو( فساد کوونکو) نه.

همدارنګه نمرود بن کنعان چې لوی جابر او کافر ؤ ، الله تعالی په ډېر کمزوري مخلوق د ماشي په ذریعه ووژلو، ماشی یې په سپېږمه کې ننوتلو او څلویښت ورځې یې تعذیب کړ او بیا مردار شو. بحر العلوم ـ موافق للمطبوع (۲ /۲٤۸)

**۱٤- په قرآني قِصَصُو او واقعاتو کې زمونږ لپاره دا تربیت پروت دی چې مونږ باید ددین په دعوت کې او د الله تعالی په لاره کې د رسولانو اخلاق خپل کړو او د هغوی د لارې پیروي وکړو او په دې کلک ایمان او عقیده ولرو، لکه څرنګه چې الله تعالی د خپلو پیغمبرانو او رسولانو مرسته کړې ده ، الله تعالی به زمونږ مرسته او نصرت هم کوي.**

**ر سولانو او پيغمبرانو عليهم السلام ته د دين او ايمان په وجه ډول ډول تكليفونه او مشقتونه ر سيدلي ؤ ، او د خپل قوم څخه ورته ډېر زيات دردونه او ازميښــتونه رسـيدلي ؤ ، خو هغوی غوره اخلاقو ، صـبر او اسـتقامت، متانت او د الله تعالى لار خپله كړې وه او هيڅكله يې بې صـبرېي او جزع او فزع نه كوله. همدا وجه وه چې الله تعالى نبي عليه السـلام ته امر كړی دی چې د هغوی لار تعقيب كړه.**(أُوْلَئِكَ الَّذِينَ هَدَى اللّهُ فَبِهُدَاهُمُ اقْتَدِهْ).الأنعام: (٩٠)

ترجمه:- دغه انبياء هغه كسان دي چې هدايت كړی دی الله دوی ته نو په طريقه د دوی اقتداء وكړه .

دا ځكه چې فتح او كاميابي د مسلمانانو په برخه ده.الله تعالى فرمايلي دي:( إِنَّ الَّذِينَ قَالُوا رَبُّنَا اللَّهُ ثُمَّ اسْتَقَامُوا تَتَنَزَّلُ عَلَيْهِمُ الْمَلَائِكَةُ أَلاَّ تَخَافُوا وَلاَ تَحْزَنُوا وَأَبْشِرُوا بِالْجَنَّةِ الَّتِي كُنتُمْ تُوعَدُونَ). فصلت:(٣٠)

ترجمه:- بېشكه هغه كسان چې ويلي يې دي صدقاً له زړه چې رب زموږ الله دی بيا ټينگ ولاړ وي په دغه توحيد او نورو اعمالو د دين را نازليږي به پر دوی پرښتې د ساختلو په وخت او په قبر كې چې داسې به وايي مه ويرېږئ او مه خپه كيږئ او خوشاله اوسئ تاسې په جنت هغه چې وئ تاسې چې وعده يې درسره كړی شوې ده په ژبې د انبياء الله سره.

**١٦- په قرآني قِصَصُـو او واقعاتو كې زموږ لپاره دا درس او عبرت پروت دی چې په هر وخت كې او هره زمانه كې په حق پرسـتو او د الله تعالى ددين ساتونكو او دعوتگرو ته مصيبتونه ، زحمتونه ، مشقتونه ر سيدلي دي او د خپل قوم او د كفارو له خوا ورته سپكې سپورې ، د جنون ، بې عقله ، غافلانو ، ساحرانو، القاب ا ستعمال شوي دي ، خو هغوی ددغو خبرو هيڅ پروا نه كوله او تل به د الله تعالى څخه مر سته او كومک غو ښتلو. الله تعالى فرمايلي دي:**(أَمْ حَسِبْتُمْ أَنْ تَدْخُلُوا الْجَنَّةَ وَلَمَّا يَأْتِكُمْ مَثَلُ الَّذِينَ خَلَوْا مِنْ قَبْلِكُمْ مَسَّتْهُمُ الْبَأْسَاءُ وَالضَّرَّاءُ وَزُلْزِلُوا حَتَّى يَقُولَ الرَّسُولُ وَالَّذِينَ آمَنُوا مَعَهُ مَتَى نَصْرُ اللَّهِ أَلا إِنَّ نَصْرَ اللَّهِ قَرِيبٌ).البقرة:(٢١٤)

ترجمه:- آيا گمان كوئ تاسې ای مؤمنانو چې ننه به وځئ تاسو جنت ته حال دا چې راغلي به نه وي په تاسې باندې په مثل د سختيو د هغو كسانو چې تېر شوي پخوا له تاسې نه چې رسيدلې وه دوی ته سختي لكه فقر او رنځ او لړزول شوی وو دوی په سختيو سره تر هغه پورې چې ويل به رسول او هم هغو كسانو چې ايمان يې راوړی وو سره له ده چې كله به وي نصرت د الله خبردار شئ واورئ چې بېشكه نصرت د الله نږدې دی مؤمنانو ته.

داد الله سُـنت دی چې د حق د لارې لارويان به په ازميښـتونو باندې ازمايي ، خو دا وخت ډېر كم وي او تل نه وي. نو موږ لره په كار دي چې د الله تعالى د ازميښـتونو ، قحطونو، فقر ، د ددښـمن څخه په ويره كې د الله تعالى څخه مرسـته او نصرت وغواړو او يواځې خپل شكايت او تكليف هغه ته وړاندې كړو.

**١٧- په قرآني قِصَصُو او واقعاتو كې زموږ لپاره دا درس پروت دی، چې الله تعالى د هر ازميښت څخه وروسته خپلو خاصو خلكو ته په دين كې لويه مرتبه وركوي، لكه نبوت اوولايت ، خو په دين كې د امامت او ولايت مقام هغه چاته نه رسـيږي چې څوک د الله څخه باغي او نافرمانه وي، ولو كه د پيغمبر او رسـول له اولادې هم وي. د حضرت ابراهيم عليه السـلام په واقعه كې چې راځي:**(وَإِذِ ابْتَلَى إِبْرَاهِيمَ رَبُّهُ بِكَلِمَاتٍ فَأَتَمَّهُنَّ قَالَ إِنِّي جَاعِلُكَ لِلنَّاسِ إِمَاماً قَالَ وَمِنْ ذُرِّيَّتِي قَالَ لا يَنَالُ عَهْدِي الظَّالِمِينَ) البقرة:(١٢٤)

ترجمه:- او ياد كړه ای محمده هغه وخت چې و ازمايه ابراهيم لره پروردگار د ده په څو خبرو نو ده پوره كړې هغه خبرې.وويل الله چې بېشــكه زه گرځوونكى يم تالره لپاره د خلقو مقتدا په دين كې وويل ابراهيم او له اولادې مې هم مقتديان وگرځوه نو و فرمايل الله نه رسيږي عهد زماكافرانو ته

**١٨- د موسى عليه السلام او د بنی اسرائيلو په قِصَصُو او واقعاتو كې دې اُمت ته دا درس پروت دی چې الله تعالى پر بني اسرائيلو او يهودو باندې بې شميره احسانات او انعامونه كړي ؤ او په دوی كې يې تقريباً (٧٠) زره پيغمبران ليږلي ؤ ، لكه چې الله تعالى فرمايي:** (وَإِذْ قَالَ مُوسَى لِقَوْمِهِ يا قَوْمِ اذْكُرُواْ نِعْمَةَ اللّهِ عَلَيْكُمْ إِذْ جَعَلَ فِيكُمْ أَنبِيَاءَ)، چې د ځمكې په سر يهودو تر ټولو قومونو څخه بدترين قوم قوم دی ، ځكه دوی به د الله تعالى اوامر نه منل او په هغې كې به يې چل اوفريب كولو او د الله تعالى په كتاب تورات كې به يې تحريف كولو ، پيغمبران به وژل، د الله په لار كې به د جهاد كولو څخه تښتيدل، دوی ته موسى عليه السلام وويل ، چې په شام كې د جبابره وو

سره جهاد وکړئ او بیت المقدس ته داخل شـــئ دوی ورته په ځواب کې وویل:(قَالُوا يَا مُوسَى إِنَّا لَنْ نَدْخُلَهَا أَبَداً مَا دَامُوا فِيهَا فَاذْهَبْ أَنْتَ وَرَبُّكَ فَقَاتِلا إِنَّا هَاهُنَا قَاعِدُونَ)المائده:(٢٤)

ترجمه:- وویل دغو بني اسرائیلو ای موسـی بېشـکه چې مونږ له سره نه ننوځو دې ښـار ته هیڅکله څو چې وي دغه عمالقه پکې پس ځه ته او ځي دې رب ستا نو جنګ وکړئ تاسې دواړه بېشکه مونږ دلته ناست یو له جنګ په انتظار د بري ستا.

د موسی علیه السلام هدایات به نه منل ، د بحر څخه چې تیر شول او موسی علیه السلام کوه طور ته د الله تعالی د ملاقات لپاره لاړ، دوی د خوسي عبادت شروع کړ او په شرک کې اخته شـو. په موســی علیه الســلام پورې یې تور پورې کړ، الله تعالی موســی علیه الســلام له هغه تور څخه پاک کړ، من او ســلوی ورته ددې لپاره مقرر کړی وه چې دوی د جهاد لپاره فارغ وي ، دوی وویل مونږ دا نه خورو ، مګر ته دې موسی علیه السلام سبزیجات مقرر کړي ، په دې بهانه باندې دوی غوښـتل چې په ځمکه کې ځانونه په کر کیله مصرــوف کړي او له جهاد څخه ځانونه وســاتي. الله تعالی د یهودو د یو څو ناوړه کارونه یادونه په لاندې آیتونو کې کړی ده.(فَبِمَا نَقْضِــهِمْ مِيثَاقَهُمْ وَكُفْرِهِمْ بِآيَاتِ اللَّهِ وَقَتْلِهِمُ الأَنْبِيَاءَ بِغَيْرِ حَقٍّ وَقَوْلِهِمْ قُلُوبُنَا غُلْفٌ بَلْ طَبَعَ اللَّهُ عَلَيْهَا بِكُفْرِهِمْ فَلا يُؤْمِنُونَ إِلا قَلِيلا * وَبِكُفْرِهِمْ وَقَوْلِهِمْ عَلَى مَرْيَمَ بُهْتَاناً عَظِيماً * وَقَوْلِهِمْ إِنَّا قَتَلْنَا الْمَسِيحَ عِيسَى ابْنَ مَرْيَمَ رَسُولَ اللَّهِ).النساء:(١٥٧)

ترجمه:- پس په سزا ورسولی شو دوی په سبب د ماتولو د دوی د کلک عهد خپل او په سبب د کفر د دوی په آیتونو د الله باندې او په سبب د وژلو د دوی انبیاوو لره په ناحقه په خپلې عقیدې سره هم او په سبب دویلو د دوی دا خبره نبي ته د تمسخر په ډول چې زړونه مو په پردو کې پټ دي ستا وینا پرې اثر نه کوي نو الله ددغو یهودانو په رد کې فرمایي چې دا سې نه ده لکه چې تا سې یې وایئ بلکه مهر د غفلت وهلی دی الله په زړونو د دوی په سبب د کفر د دوی پس ایمان نه راوړي دوی مګر لږ د دوی نه او په سبب د کفر د دوی مکررا او په سـبب د ویلو د دوی پر مریمې دروغ غټ د زنا او په سـبب د ویلو د دوی داسـې چې بېشـکه وژلی دی مونږ مسیح عیسـی زوی د مریمې رسول د الله په ګومان خپل.

په یو بل مبارک آیت کې راځي:(فَبِمَا نَقْضِهِمْ مِيثَاقَهُمْ لَعَنَّاهُمْ وَجَعَلْنَا قُلُوبَهُمْ قَاسِيَةً يُحَرِّفُونَ الْكَلِمَ عَنْ مَوَاضِعِهِ وَنَسُوا حَظّاً مِمَّا ذُكِّرُوا بِهِ وَلا تَزَالُ تَطَّلِعُ عَلَى خَائِنَةٍ مِنْهُمْ إِلا قَلِيلاً مِنْهُمْ فَاعْفُ عَنْهُمْ وَاصْفَحْ إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الْمُحْسِنِينَ).المائدة:(١٣)

ژباړه:- نو په سـبب د ماتولو د دوی د کلکې وعدې خپلې لعنت وکړ مونږ پر دوی او ګرځولي دي مونږ زړونه د دوی سـخت چې هیڅ پند نه اخلي چې تحرفوي دوی کلمې د تورات مخصــوصــاً محمدي نعت له ځایونو خپلو او په خپلې ناپاکې مدعا یې اړوي او هېره کړې ده دوی غټه برخه اخیستل له هغه شي چې پند ورکړی شوی وو دوی ته په هغه سره په تورات کې چې هغه متابعت د محمد وو او همېشه به یې ته ای محمده چې خبریږې په خیانت له دې یهودیانو نه مګر لږ کســان له دوی نه (خیانت نه کوي)نو عفوه وکړه ای محمده دوی ته او مخ وګرځوه له دوی نه بېشکه چې الله خوښوي احسان کوونکي.

**والسلام علیکم ورحمة الله وبرکاته.**